# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|





تارا خان
۳۱ـ ۸ ـ ۲۰۰۸


## يرغلګرو ته !

تاودونــه　د غـــــريبو　نيمه　خوا كړل　　نيمه شپــه كی لوي واړه دي په ژړا كړل
بنه هوس د ناوي زوم دي ځيني واخيست　　ځـــان ته نن تول وحشتونه تاروا كړل
بنه په ياد ي دي د دو قطبــو په وخت كښي　　د مظلوم ســـره به　تا په چل خندا كړل
اوس هغه مظلوم وهــــــي تر پښودي لاندي　　كلي كوريـي ورانوي هستي دی غلا كړل
د حساب ښخــه كه نن پټ سبا به څه كړي　　تاريــــــخ　تول جنايتونه ستا رسوا كړل

د ملی ګټو « ملی منافعو» ساتنه او دفاع د هرافغان ايمانی او وجدانی وظيفه ده !
لومړي ــ بايد ووايو چي ملي ګټي يعني څه ؟
دوهم ــ ولی په مختليفو وختونو كي ځيني ( دولتي واكمنان ، سياسي ګوندونه ، تنظيمونه ، او اشخاص) د ملي ګټو څخه درک او تعبير د خپل اولس په وړاندي د عينيت او حقيقت څخه ليري، د خپلو شخصي او ګروپي ګټو په نظر كي نيولو سره، په يوه او بل شكل سره تفسيره وي .
چی دا دوهم سوال په واقعيت كښي هغه مهمه او اساسی پوښتنه ده ، چي نن زموږ افغان لاس تړلي ملت ورسره مخامخ دي. ځكه نو ضرور اولازمه ده چي افغان مسلكي ، سياسي كارپوهان

او په مجموع کي ټول روشنفکران، د ملي ګټو پيژندنه ، ساتنه او دفاع د خپلو خلکو په منځ کښي د جمعي رسانو له لاري داسی تبليغ او ترويج کړي، چي په هغه صورت کي بيا خلک کولايسي ، په اګاهانه ډول د خپلو ملي ګټو ساتنه او دفاع وکړي. اوس به لومړي ملي ګټي تعريف کړو:

**ـــ ملي ګټي « ملي منافع » : دا يوپراخ د سياسي او اقتصادي ارزښتونو ځخه ډک مفهوم دي ، يعني د يوه ملت او ميليتونود ژوندانه په ګډ چاپيريال کي هر هغه څه چي په مادي اومعنوي لحاظ وجود ولري، او د هغوي د ژوندانه د بقا او پرمختګ سبب ګرځي ، داد هغه ملت او ميليتونو ملي ګټي منعکسوي.**

**ولي په خاص ډول ملي ګټي عبارت دسياسي او اقتصادي استقلال ، ملي شتمني ، فرهنګ ، ځمکني بشپړ تيا او فضايي حريم ځخه دي . اويا په لنډ ډول سره ويلايسوو، چي ملی ګټی عبارت دهغوګټو ځخه دي ، چی دهغو ځخه ټول ولس ګټه واخيستلا يسی . ولی ځينی وختونه ځيني ( حاکمه واکداران اونور باقدرته اشخاص ، سياسی سازمانونه ، تنظيمونه ، ګروپونه ) خپلی نامشروع ګټي دملی ګټو ترنامه لاندي دجمعي رسانو له لاری داسي تبليغوي ، اوفکر کوي چی زما په دي درغليو باندي ملت نه پوهيږي . چی دانو په واقعيت کښي د ملت په وړاندي لويه جفا بلل کيدلای سي.**

که د ملي ګټو د پورتنيو شيړو جزو ځخه د هر يوه صلاحيت د يوه ملت او ميليتونو د ارادي ځخه په مستقيم يا غير مستقيم ډول سره ووتي، په هغه صورت کي دا د هغه ملت او ميليتونو پر ملي ګټو باندي تيري او تجاوز بلل کيږ ي.

نو په هغه صورت کي هغوي حق لري چي د خپلو ملي ګټو د دفاع او ساتني له پاره په خپل توان او طاقت سره مبارزه وکړي .

اوهم بايد و وايو چي په ټول جهان کي د هيوادونو تر منځ سياسي ډيپلوماتيک او اقتصادي مناسبات د هغوي د ملي ګټو په نظر کي نيولو سره منځ ته راځي او ساتل کيږ ي. يعني د متقابل احترام پر اساس تامينيږي او مخ ته ځي .

ولي که په دي مناسباتو کي د يوه طرف ملي ګټي تر پښو لاندي او يا د دواړو تر منځ د ملي ګټو توازن په نظر کي نه ونيول سوي ، نو په هغه صورت کي دا معلومه خبره ده چي دا سياسي ډيپلوماتيک او اقتصادي مناسبات د يوه لاس پوځي رژيم په ذريعه سره د ملت د ارادي خلاف د برچي په زور پر ولس باندي تحميليږي ، چی ښه مثال يي د افغانستان اوسني حاکميت دی .

او دا هم يو ښکاره حقيقت دي چي په ټول جهان کي داسي اصل او منشور وجود نه لري، چي د هغه پر اساس دي ، د يوه مملکت واکداران خپلي ملي ګټي د بل ملت په ملي ګټو کي ووينې . ولي که د ځينو مملکتونو واکداران داسي ادعا وکړي ، او عملي جنبه يي لانه وي پيدا کړي ، نوپه هغه صورت کي د هغه ملت ملي ګټي تر خارجي تهد يد لاندي بلل کيږي .

او که دي خارجي تهديد عملي جنبه حتا که د يوويشتمي پيري د امپريالستي حاکميتونو د نوو اصطلاحاتو تر نامه لاندي يعني د « تروريزم او مخدره موادو له منځه تلو او يا د ښځو او بشري حقوقو او يا د ډموکراسي د پولي کولو له پاره » هم وي. نو په هغه صورت کي هغه ملت او ميليتونه حق لري، چي د خپلو ملي ګټو د دفاع په وړاندي په دواړو حالاتو کښي يعني د خارجي تهديد او تجاوز پرضد په خپل ټول مادي او معنوي توان سره مبارزه وکړي .ترڅو د خپلو ملي ګټو صلاحيت په خپل لاس کي واخلي. د پورتني مسلي دښه وضاحت له پاره ښه مثال د٢٠٠١ کال داکتوبرداومي نيتي دامريکايي لښکرو يرغل دي. چي دخپلو جيټ اود بي ٥٢ الوتکو په زور يي نه تنها د طالبانو حاکميت ته يي د پاي ټکي کښيښاوه ، بلکه د سلګونو ملکي بي ګناه انسانانو ژوند يي هم ځيني واخيست. اوکورونه يي په کنډواله ورتبديل کړل .

چي د د وي دا بشري او اقتصادي جنايت په يوه او بله بهانه او په ښکاره استعماري زور سره ادامه لري . ولي ډير ضد بشري عمل د دي يرغلګرو ځواکونوخو لا دادي چه د هلمند، ننګرهار، او کندهار د ولايتونو په ځينو سيمو کښي پرلاس ترلو او بي دفاع افغانانو باندي د خپل استعماري زور او قهر د ښه ښکاره کيدو په منظور يي ډير زياد يورانيوم لرونکي بمبونه هم وغورزول. چي په نتيجه کښي په هغو سيمو کښي نه تنها هيڅ انسان ژوندي پاته نه سوو، بلکه هيڅ نوع زنده جان او نبات هم پاته نه سوو. چي د يوه افغان کار پوه محترم (ډاکتر ميره کي) د ټلويزيوني مصاحبي په حواله چي چه ډير مفصل او هراړخيز بيان يي په افغانستان کښی

د یرغلګرو د یورانیمي بمبونو پر بمبارد او د دي بمبونو پر پیلو او پر بشر باندي د هغو د منفي تاثیراتو په هکله وکړي . او هم یي وویل : د دي یورانیمي بمبونو د ذراتو چاره که په مسلکي ډول ونه سي ، منفي تاثیرات یي تر دوه میلیونو کالو لا ډیر وخت په بر کي نیسي . چي په دي اړوند ځو هفتي مخکي د جهان د بشر د حقوقو د ساتني اداري د انګریز پر ځواکونو هم سخت انتقاد وکړ. او دا یي د ملګرو ملتونو د منشور څخه ښکاره سرلغړونه او تیري وبلي. ولي د انګریز د زاړه استعمار ادامه ورکونکو یعني اوسني واکمنانو یي د نوي امپریالستي اصطلاحاتو په زور یي داسي وویل : چي موږ د خپلو ملي ګټود د فاع په منظور د احق لرو، چي د هلمند په ولایت کښي یورانیمي بمبونه استعمال کړو. ولي د افغنستان لا پوځو واکمنانو دیرغلګرو دي ضد بشري تاریخي جنایاتو په مقابل کښي بیا هم د پخوا په شان چپتیا اختیار کړل .
د تعجب ځاي خو لا دا دي ، چي زموږ په ګران وطن افغانستان کي د نوي امپر یالستي نړي واکمنان چي د زرهاوو کیلو مترو واټن څخه د خپلو لس هاوو زرو اجیرو عسکرو سره چي په عصري بشر وژونکو سلاحو باندي مجهز راغلي ، یرغل یي کړي ، او هره شپه او ورځ زموږ د مملکت په مختلفو سیمو کښي د دي غیور ملت ښځي ، کوچنیان ، زاړه ، او ځوانان په شهادت رسوي. او تر مځکي لاندي هستي یي په پټه او یا ښکاره استعماري زور سره خپلو مملکتونو ته انتقالوي. او دا لاس تړلي ملت د دوي اوهم د دوي د لاس پوځي دولت تر برچو لاندي د دي بشري او اقتصادي جنایاتو یوازي د لیدو توان لري او بس .
اوس نو اصلي خبره دا ده چي ایا د امریکا تر رهبري لاندي د غربي تولني همدا ملي ګټي دي، چه دوي باید زموږ په ګران وطن کښي دا بشري جنایات د خپلو اقتصادي او نظامي اهدافو له پاره تر سره کړي ؟
نو په دي صورت کي بیا دا سوال پیدا کیږ ي ، چي د افغان غیور ملت ملي ګټي نو چیري دي ؟
ولي د ایو ښکاره حقیقت او هیڅ یو ریښتني افغان د دي څخه سترګي هم نه سي پټولاي، چي افغانستان نن د امریکا د متحده ایالاتو د یوویشتمي پیري د مستعمره هیوادونو په اول صف کي قرار لري . ځکه نو د امریکا او غربي نړي لاس پوځي افغانان او جنګ سالاران دیرغلګرو دشتون څخه په استفاده د ملت په منقولو اوغیر منقولو شتمنیو یي ځانونه د لس هاوو او سل هاوو میلیونو ډالرو خاوندان کړل ، چی د دوی دا چور او چپاول لړی نوره هم ادامه لري. ځکه نو افغان دولتي واکمنان او هم یو تعداد د پردو په لاس جوړ شوي افغاني سیاسي سازمانونه د اشغالګرو د اقتصادي او نظامي مخو سره سم و ملت ته ملي ګټي په یوه او بل شکل د اصلي محتوا څخه لیري تعریف او تفسیر ه وي. او د خلکو په منځ کي داسي ادعا او تبلیغ کوي ، چي د ځولسیزو له پاره باید د امریکا تر رهبري لاندي د ائتلاف او ناتو ځواکونه په افغانستان کښي پاته سي. او په ډیره بي شرمانه اوسپین سترګیو سره وایي چي تنها د امریکا او د ناتو د ځواکونو په موجودیت کښي افغان ملت او ملي ګټي یي خوندي ساتل کیداي سي او بس .
په داسي حال کي چي د دوي دا ځرګندوني ملت د خپل ځان د پاره توهین او د افغان ملي ګټو پر ضد یو ښکاره عمل بولي . د پورتنیو عیني واقعیتونو څخه په ښکاره ډول معلومیږي ، چي د افغان ملت د لاسه د ملي ګټو واک او اختیار اخستل سوي ، او خپل ګران وطن مو د امریکا تر رهبري لاندي د غربي تولني تر ښکاره مستقیمي قوماندي لاندي راغلي دي . اوس نو په داسي حال کي چه یرغلګر ځواکونه یوه ورځ تر بلي دیر د ملت د ستر مقاومت سره مخامخ کیږي .
او په دي مقاومت کښي ډیر زیاد ملکي خلک خاصتاً ( ښځي ، کوچنیان او زاړه ) دیرغلګرو د بي ساري بمبار دونو او راکیتونو د اورولو په نتیجه کي په شهادت رسیږ ي کورونه او محلات یي په کنډواله تبدیلیږي .
نوپه دي حساسو او تاریخي شیبو کښي د افغان مقاومت و ځنګ ته پر خپلو خلکو او وطن مینو روشنفکرانو وظیفه څه ده چي د هغي په نتیجه کښی افغان لاس تړلي ملت ژر تر ژره د دي جنایاتو او بدبختیو څخه نجات پیدا کړي؟ چي دا هغه اساسي سوال دي چي نن تول افغاني سیاسي ګوندونه او مستقل روشنفکران ورسره مخامخ دي. چي باید جواب یي ورته پیدا کړل سي.
ولي زما په نظر روشنفکران باید د خپل تاریخي رسالت له مخي که دا روشنفکران د سیاسي احزابو په صفوفو کي متشکل وي ، او یا په نورو اجتماعي سازمانونو کښي ، او یا د هغو څخه

د باندي د خپل ملت د پاکو ارمانونو د پاره کار او فعالیت کوي، په دي ټولو حالاتو کښي د وخت تاریخي غوښتنه ده ، چي د خپلو ملي ګټود پوره واک اخیستلو له پاره خپل ترمنځ د دي مقدس ارمان له پاره ګډ تفاهم ته سره ورسیږي. کیدلاي سي دا تفاهم د(سیاسي مشترکوغونډو، ملاقاتونو او یا د نورو جمعي رسانو له لاري که هم وي .) باید ژر تر ژره شروع سي. او په دي سیاسي غونډو کي باید د افغانستان د اوسني لانجي د سیاسي حل له پاره پر یوه داسي میکانیزم باندي کار او تفاهم وسي ، چّه د هغه د تطبیق په نتیجه کي نه تنها په افغانستان کي امن او ثبات راسي، بلکه د افغان ملت د ملي ګټو واک او اختیارهم باید بیرته دا غیور ملت په خپل لاس کي واخلي . ولي دا هم لازمه ده چي د داسي یوه حیاتي او با ارزښته میکانیزم وړاندیز باید د یوه با صلاحیته منتخب کمیسون په لاس باندي و ملګرو ملتونو ته او هم د جنګ دواړو طرفوته ورکول سي . البته د داسي یوه میکانیزم د محتوا او متن په هکله ما د دوو کلونو راهیسي و محترمو افغانانو او جهاني ټولني ته د افغاني ویبپاڼو له لاري وړاندیزونه کړي ، کیدلای سي د امیکانیزم د لوي افغاني تفاهم په نتیجه کي پراخ او هر اړخیزه بنه اختیار کړي .
او هم باید ووایو چي د ملي ګټو د پورتنیو شپږو جزو تشریح او توضیح په دي کوچني لیکنه کښي نه سي ځاید لاي، ځکه هر جزء باید جلا په دقیق ډول دعیني مثالونو سره یو ځاي توضیح او تشریح سي . ځکه نو داي وه علیحده او جلا لیکنه غواړي .
ولي دلته به تنها د ملي ګټو پر فرهنګي جز بندي لږ څه مکث وکړو .
ټول افغانان په دې حقیقت باندي پوهیږي ، چه د هر نظامي یرغل په نتیجه کي ، د ملي ګټو هر طرف دیرغلګرو د ستراتیژیو سره سم تر ضربي لاندي نیول کیږي . دا ځکه چي هغوي غواړي د ملي ګټو هر طرف په خپله ګټه باندي وځرخوي . ځکه نو د افغاني فرهنګ مادي او معنوي برخي هم تر مستقیمو ضربو لاندي راغلي دي. مثلاً د دي غیور ملت هغه تاریخي آثار چي د دي ملت د تاریخي قدامت او په زړه پوري کلتور ښکارندو یي کوله، د هغو ډیره برخه په پټه او یا ښکاره زور سره پر مختلیفو لاسونو باندي د مملکت څخه وتلي او وزي. او د د یو څنګ ته بیا د فرهنګ معنوي برخه هم د مختلفو یرغلګرو تر مستقیمو او غیر مستقیمو ضربو لاندي نیول سوي ده . هغه دا چي تعلیمي او تحصیلي پروګرامونو کي د پردو ښکاره یرغلونه معلومیږي ، او افغان دښمنان کوښ کوي چي د دي لاري څخه افغان نوي نسل د عیني واقعیعتونو څخه لیري او د ګمراهي پر لار باندي سوق او تربیه کړي . او یا زموږ په اسلامي ټولنه کي د عیسویت د پاره تبلیغ ، او یا نوي نسل ته د دموکراسي تر نامه لاندي د داسي فضا مساعدول ، چي هغه د افغان منل سوي کلتور سره په ښکاره ټکر کښي قرار لري . مثلآ د خارج څخه و افغانستان ته تر مختلفو نومونو لاندي د بدلمنو ښځو رالیږل ، او هم ځینو افغاني میرمنو ته د داسو شرایطو مساعدول چي هغه هم وبد لمنیو ته تشویق کړي . چي دا هغه عیني واقعیتونه دي چي د کابل ښاریان او هم د ځینو نورو ولایاتو ښاریان یي په خپلو سترګو باندي ویني. چي دا ټول هغه څه دي چي د یرغلګرو د ستراتیژیو سره په فرهنګي اړخ کي مخ ته ځي .
او یا په کابل کښي د پټو نایټ کلپونو جوړول، چي د دي نایټ کلپونو یو ښه مثال د یوه الماني ژورنالست هغه مستند فلم دي ، چي پر( ۹ ــ ۶ ــ ۲۰۰۸ ) د شپي پر لس نیمو بجو د الماني د (ان ــ تی ــ وي ) تلویزوني شبکي له لاري څخه نشر سوو . په دي فلم کي ژورنالست کوښښ کړي دي چي د کابل د ښار حالات او د افغانستان د داخلي او خارجي ما فیا
او غربي دموکراسي ماهیت څرګند او بربنډ کړي . دي یو نیم ساعته فلم ډیر هغه څه ښکاره کړل ، چه په ډیرو یي د افغانستان خلک لا تر اوسه درست نه دي خبر . د مثال په ډول : د کابل په ښار کښي د شپي له خواه څخه یو نایټ کلپ ښکاره کړ، چي د شپي د ډیرو با قدرتو داخلي او خارجي کسانو موټران ورته راروان وه . ولي متاسفانه چي د اشخاصو مخان یي په کامره کښي نه ښکاره کول . دا تر مځکي لاندي یو ډیر لوي عصري مجهز نایټ کلپ وو . او ژورنالست واي چي د دي نایټ کلپ څخه د کابل خلګ خبرهم نه دي. تمت بالخیر